## ګریټ مانچسټر
## د کډوالۍ د مرستې څانګه

**GMIAU د افغانستان په اړه د UKVI لنډیز– 2021/09/15**
**دARAP افغانانو د بیا ځاي پر ځاي کولو د مرستې پروګرام**

دا پروګرام د اپریل 2021 راهیسې روان دی او وس هم د غوښتونکو لپاره خلاص دی.
دا پروګرام هغه خلکو ته اجازه ورکوي چې انګلستان ته راشي چا چې په افغانستان کې د انګلستان ځوکونو سره د ژباړونکي په توګه دنده ترسره کړي وی او یا په عامه توګه افشاء شوي وي او ژوند یې په خطر کې وي. دوی کولې شي چې خپلي میرمني او د اتلسو نه کم عمر لرونکي ماشومان له دوی سره راشی. د کورنۍ نور غړي یې ممکن په استثنایی شرایطو کې ومنل شي.
هغه خلک چې له دی لاری انګلستان ته راځي نو په دائمی توکه د اوسیدو مستحق دي. دا د پنځه کلنۍ ویزی بدلون دی. هغه خلک چې پنځه کلنه ویزه لری کولی شی ILR ویزې ته په وړیا توګه غوښتنه وکړي مخکې له دی چې د وړیا ویزه ترلاسه کولو وخت تری تیر شي.
ټول هغه کسان چې د ARAP له لاری انګلستان ته راوړل شوي وي د کار کولو، د تعلیم او روغتیایي پاملرنې ته د لاسرسي حق لری او د عامه مرستو (پبلک فنډ) لپاره د غوښتنې وړ دی.
مشوره
هر هغه څوک چې فکر کوي دی لپاره وړ دی نو باید لاربنوونې ولولي او فورمه دلته ډکه کړي
[https://forms.office.com/pages/responsepage.aspx?id=7WB3vlNZS0iuldChbfoJ5fowYYw5QlNLoVCT4OM_uPlUNTUyVE9QTU9XTFFHS0czUTgxTldQVEo3TiQlQCN0PWcu](https://forms.office.com/pages/responsepage.aspx?id=7WB3vlNZS0iuldChbfoJ5fowYYw5QlNLoVCT4OM_uPlUNTUyVE9QTU9XTFFHS0czUTgxTldQVEo3TiQlQCN0PWcu)

هر هغه څوک چې په انګلستان کې د پنځو کلونو اسناد لری نو زر تر زره دی د دائمی ویزې غوښتنه وکړي.د هوم آفس په تمه کیږئ مه. د مرستې لپاره خپل سیمه ایز د پارلمان غړي سره اړیکه ونیسئ چې کیداي شي هوم آفس کې درسره مرسته وکړي.

**د افغان اتباعو د بیا میشته کیدو پروګرام**

دا یو پروګرام دی چې په سپتمبر 2021 کې جوړ شوی تر څو د 20,000 پورې افغان اتباعو ته اجازه ورکړي چې په انګلستان کې ځای پر ځای شي په شمول د 5,000 په لومړي کال کې.
د وړتیا لپاره باید ستاسوخطر وارزول شئ چې په افغانستان کې ستاسو د فعالیتونو له وجې او یا ستاسو د خپلو ځانګړتیاو (د ښځو، LGBTQ، مذهب، توکم) له کبله تاسو ته پیښ دي.
که ومنل شي نو تاسو ته به د پاتې کیدو لپاره دائمی ویزې درکړل شي. ځینې چې لا د مخه په انګلستان کې دی به شپږ میاشتې ویزه ولری ترڅو عامه مرستو (پبلک فنډ) ته لاسرسی ولري. دا به په اتومات ډول لوړ شي.
هوم آفس دری لاری غوره کړي هغه خلکو لپاره چې ممکن وړتیا ولري؛

- هغه څوک چې د مخه په خطر کې پیژندل شوي وي او انګلستان ته وړل شوي. هغه کسان چې د وتلو لپاره منل شوي دي خو نه شي کولای چې ووځي هغوي هم کولای شې چې وړ وګڼل شي که انګلستان ته ځان ورسوي.
- هغه کسان چې له افغانستان څخه تښتیدلي دی خو په سیمه کې پاتې دی د هغوی وړتیا به د UNHCR له طرفه وارزول شي دی پروګرام لپاره. تر دی دمه نور جزیات ندي ورکړل شوي.
- هغه کسان چې وس لاهم په افغانستان کي دي (چیرته چې پرېښودل کیداي شي) او یا څوک چې په وتلو بریالي شوي وي د ځایی مؤسسو لخوا راجع کیداي شي. تر دی دمه نور جزیات ندي ورکړل شوي.

ښځه او خاوند، جوړه او د اتلسو کالو کم عمره ماشومان چې خود قفا نه وی به د دی پروګرام وړ وي. د کورنۍ نور غړي یې ممکن په استثنایی شرایطو کې ومنل شي.
ټول هغه کسان چې د ACRS له لارې انګلستان ته راوړل شوي وي د کار کولو، د تعلیم او روغتیایي پاملرنې ته د لاسرسي حق لری او د عامه مرستو (پبلک فنډ) لپاره د غوښتنې وړ دی.
مشوره
که تاسو انګلستان ته د ARAP له طریقه راوړل شوي نه یاست او فقط د شپږو میاشتو ویزه لرئ نو تاسو باید هوم آفس سره اړیکه ونیسئ. ستاسو ایم پي باید په دی کې تاسو سره مرسته وکړي.
تاسو باید مرستندویه ګټو ته لاسرسۍ وموموئ خو دی لپاره تاسو باید د Plus Job Centre له لارې غوښتنه وکړئ.

**<u>د برتانیا د اتباعو د کورنۍ نږدې غړي/هغوی چې دائمی ویزه لري راوړل شوي یا منل شوي.</u>**

هغه کسان چې په دی اساس ایستل شوي ممکن د شپږو میاشتو ویزه ولري. دوي وس د پاتې کیدو لپاره د دائمی ویزې مستحق دي. دا په هغو کسانو هم پلي کیږي چې د انګلستان دولت لخوا ورته د ویستل کیدو ویل شوي وو خو انګلستان ته ونه لیږل شو، که وس انګلستان ته ولیږل شی. د ILR ترلاسه کولو پروسې په اړه نور توضیحات شتون نه لري.
مشوره
که تاسو په دی اساس ایستل شوي یاست نو باید خپل ایم پي ته د مرستې لپاره مراجعه وکړئ چې معلومات درکړي چې ILR ترلاسه کولو لپاره څه کولو ته اړتیا لرئ.
تاسو باید مرستندویه ګټو ته لاسرسۍ وموموئ خو دی لپاره تاسو باید Plus Job Centre له لارې غوښتنه وکړئ.

**<u>د برتانیا اتباعو افغان کورنۍ غړي /هغوی چې دائمی ویزه لري د راوړلو مستحق نه دي.</u>**

دوي اړ دي چې د کورنۍ غړو یا بلې لارې لپاره د کډوالۍ نورماله لار غوره کړي اومعیارونه پوره کړي او فیسونه ورکړي. شرایط تر اوسه آسان شوي نه دي او خلک چې افغانستان کې دي نه شي کولای چې درخواست وکړي تر څو وکولای شي هیواد پریږدي. هغه کسان چې له هیواده بهر دی کولای شي چې په نورماله توګه درخواست وکړي.
مشوره
تر څو چې تاسو افغانستان نه شئ پریښودی تر هغه تاسو درخواست نه شئ ورکولی. که تاسو له افغانستانه بهر یاست نو باید چې د خپل وضعیت په اړه قانوني مشوره واخلئ.

**<u>افغانان چې د 1 سپتمبر نه مخکې په لنډمهاله ویزه دي ( نه دی راویستل )</u>**

تاسو به وکولی شئ چې نوری مودی لپاره غوښته وکړئ خو باید چې ډیر شرایط پوره کړئ او فیس ورکړئ. هغه اسناد چې ستا پیژندنه پری کیږي ممکن د افغانستان وضعیت ته په کتو معاف شي درته. تاسو له داسې ویزی څخه هم ګرزیدلې شئ چې په عامه توګه د ویزی په مختلف کټګوري کې د دی اجازه نه ورکوي، نو تاسو اړ نه یاست چې غوښتنې لپاره انګلستان پریږدئ.
تر دې مهاله په دی اړه اضافي معلومات نه دی ورکړل شوي.
مشوره
مخکیني هم شریکان او د اتلسو کالو کم عمره ماشومان چې خود قفا نه وي کولی شي د قانون مطابق غوښتنه وکړي. په افغانستان کې د دې ترسره کولو امکان شتون نه لري خو که افغانستان مو پریښود او په کوم هیواد کې چې یاست په هغه هیواد کې غوښتنه وکړئ.
د کورنۍ نور غړي هم ممکن په استثنایی توګه غوښتنه وکړي.

مشوره
تاسو باید د وکیل سره مشوره وکړئ چې آیا د کورنۍ غړي کولای شي چې غوښتنه وکړي.

**<u>افغان پناه غوښتونکي</u>**

که تاسو د پناه غوښتنې درخواست کړی وی او د هوم آفس یا د محکمې تاریخ پریکړې ته منتظر یاست تر هغې هوم

آفس ستاسو قضیه نه څېړي تر څو چې د افغانستان په اړه نوي لاربښوونې نه وي ترلاسه شوي. هغوي به له محکمې وغواړي چې ستا پریکړه وځنډوي.
مشوره
تاسو همدا اوس باید د خپلې قضیې په اړه پریکړې ته زور ورکړئ یا د ایم پي له طریقه او یا د خپل قانوني استازي له طریقه. که تاسو قانوني استازې نه لرئ ځکه چې تاسو قانوني مرستې رد کړی وي نو ممکن وس تاسو قانوني مرستې لپاره وړتیا ولرئ او د قانوني مرستې وکیل سره اړیکه ونیسئ تر څو وګوري چې دوی اوس ستا قضیه پر مخ وړي شی.

**<u>رد شوي پناه غوښتونکي</u>**

که ستاسو پناه غوښتونه مخکې رد شوی وی نو تاسو کولای شئ په افغانستان کې د وضعیت بدلون په پام کې نیولو سره هوم آفس ته نوری غوښتنې (نوې ادعا) وړاندې کړئ. تاسو به اړ واوسئ چې دوی سره د ټلیفون له لارې اړیکه ونیسئ چې په لیورپول کې د نوی ادعا وئیلو په خاطر د ملاقات لپاره وخت درکړي.
مشوره
که څه هم تاسو احتمال ولري چې یو ښه ادعا ولرئ نو که امکان ولري دا به غوره وي چې یو وکیل ولرئ او ستاسو لپاره داسې وکړي. یو وکیل سره اړیکه ټینګه کړئ او د خپلې قضیې پریکړې ورته چمتو کړئ چې وګوري دوي به وکولی شي چې ستاسو قضیه واخلي.